شتمنی
SHTAMANAI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت

چهارشنبه | د ربیع الاول ۱۹-۱٤٤٥ / د تلي ۱۲-۱٤۰۲ / د اکتوبر ٤-۲۰۲۳ / دوهم کال / ٦۸ ګڼه / ٤ مخیز




**د کفارو په شتمنیو او اولادونو مه حیرانیږئ!**

**ژباړه:** د دوی مالونه او شتمنۍ او د دوی د او لادونو د زیاتوالي په لېدو، په تعجب کې مه پاته کېږه. الله تعالی دا غواړي چې د همدې شیانو په وسیله دوی په دنیوي ژوندانه کې هم په عذاب اخته کړي او د مرګ په حالت کې هم، تر څو له حق څخه د منکرتوب په حالت کښې ومري. سورة التوبة [٥٥]

(د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست)

## سرمقاله

### نگاهی بر فعالیت مجدد شرکت دولتی سیلوی مرکز

سیلوي مرکزی کابل فعلا منحیث یک شرکت عام المنفعه انتفاعي دولتي بوده که مساحت تاسیسات آن حدود (۷۰۰۰۰ ) متر مربع را احتوا مي کند و ساحه عمومي بشمول باغ که در سمت شرق آن قرار دارد حدود ۹٦ جریب زمین را در بر مي گیرد. این نهاد از سال ۱۳۳٥ هـ. ش در بخش تذخیر و پروسس گندم – تولید ارد و تولید انواع نان و ناشتا – روت و کلچه باب فعالیت نموده و رول ارزنده ئي را در زنده گي اقتصادي شهریان کابل انجام داده است. برعلاوه در قسمت رفع ضروریات قطعات قواي مسلح و سائر ارگان هاي دولتي ملکي و امنیتي از نقطه نظر محصولات نانباب – آرد و گندم در قسمت تقویه بنیه اقتصادي دولت فعالیت هاي ارزشمندي را انجام داده است. با شروع جنگ های خانمان سوز و بعد از آن بنا بر نبود استراتیژی معین و عدم توجه به این بخش، فعالیت های سیلوی مرکز به رکود مواجه گردیده و این شرکت در سه دهه اخیر فعالیت اساسی نداشت. بعد از تحولات اخیر در کشور شرکت دولتی سیلوی مرکز با همکاری، هماهنگی و نظارت ریاست عمومی شرکت های دولتی وزارت مالیه فعالیت های خویش را بعد از ۳۰ سال توقف به تاریخ ۲ حوت ۱٤۰۰ از نو آغاز کرد. شرکت نام برده در نخستین روزهای فعالیت خویش، در بخش های ذخیره و پروسس گندم، تولید آرد و انواع نان، ناشتا، روت و کلچه فعالیت نموده و محصولات خود را از طریق ۳۳ غرفه فعال در نواحی مختلف شهر کابل به قیمت ارزان تر و با کیفیت بهتر به شهروندان عرضه می کند. با سپری شدن یک و نیم سال از فعالیت های سیلوی مرکز، هم اکنون فعالیت های شرکت نامبرده در بخش های فابریکات نان پزی و آسیاب با استفاده از پرسنل موجود و امکانات ابتدایی تخنیکی نسبتا بهبود یافته و به اساس تفاهمنامه های جداگانه که با وزارت امور داخله، لیلیه های پوهنتون کابل و پلی تخنیک به امضاء رسانیده است، مسئولیت تهیه نان مورد نیاز نهاد های مذکور را به عهده داشته و باعث گسترش فعالیت ها و تولیدات این شرکت گردیده است. هم اکنون ظرفیت سیلوی مرکز در حدود (۱۰۰۰۰) ده هزار کیلو که معادل ده تن نان در روز ارتقا نموده است، توقع مي رود در اثر توجه ادارات دولتی و مقامات ظرفیت تولیدی شرکت نام برده به طور قابل ملاحظه ای افزایش یابد. همچنان شرکت در نظر دارد تا به اجرای پلان تجارتی خویش، در قدم اول بخش ذخایر گندم که یکی از مسایل مبرم و حیاتی در سطح کشور به شمار می رود، راگسترش دهد و با ایجاد سیلوهای جدید و فعال کردن بخش های غیر فعال گام های اساسی را در زمینه ذخیره گندم بر دارد زیرا موجودیت ذخایر گندم در حالات غیر مترقبه و جلوگیری از نوسانات قیمت در مارکیت – تشویق دهاقین برای کشت گندم و محدود ساختن واردات آرد و گندم می تواند موثر واقع شود. همچنان شرکت سیلوی کابل در اثر همکاری و هماهنگی ریاست عمومی شرکت های دولتی وزارت مالیه در نظر دارد تا سیستمی را ایجاد نماید که در تمام نقاط کشور محصولات خویش را با ایجاد نماینده گی های فعال تاسیس و برای تامین ضرورت ارگان های دولتی و مردم عرضه نماید. همچنان به اساس دیدگاه استراتیژیک رهبری وزارت مالیه به خصوص هیئت رهبری ریاست عمومی شرکت های دولتی مبنی بر فعالیت موثر سیلوهای کشور، شرکت سیلوی کابل می تواند که عواید چشمگیری را از طریق فعالیت های اساسی و غیر اساسی خویش بدست آورده و بودجه دولت را از طریق مفاد خالص و مالیات تقویه نماید. همچنان با افزایش ظرفیت های تخنیکی و تولیدی این شرکت بخش اعظم نیازمندی های ادارات دولتی و غیر دولتی را مرفوع می تواند و ضمن کاریابی برای شهروندان، در قسمت افزایش عواید ملی نیز کمک شایانی می نماید. که ریاست عمومی شرکت های دولتی در این راستا تلاش های گذشته را بسنده ندانسته بلکه می کوشد در کنار گسترش فعالیت سیلوی مرکز سائر سیلوها را نیز احیا نماید تا این بخش مهم بتواند جایگاه تاریخی اش را دوباره احراز نماید.

با احترام
اداره

## د ماليې وزارت مالي معين او کفیل د WFP له استازي سره وکتل

د ماليې وزارت مالي معین او کفیل حاجي عبدالقدیر احمد په افغانستان کې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) له مشري، مېرمن «شاو وې لي» سره وکتل. په پیل کې مالي معین د (WFP) مسؤلینو ته د ښه راغلاست تر څنګ مننه وکړه، چې د خوړو نړیوال پروګرام په افغانستان کې خپل فعالیتونه جاري ساتلي او ډاډ ئې ورکړ، چې د ماليې وزارت به په بشري او پراختیايي برخه کې د (WFP) د فعالیتونو لپاره د لا ډېرو همکاریو او اسانتیاوو رامنځته کولو ته دوام ورکوي. ښاغلي عبدلقدیر احمد غوښتنه وکړه، چې (WFP) دې د بشري مرستو تر څنګ په پراختیايي برخو کې هم مرستې وکړي، ترڅو د افغانانو ستونزو ته په دایمي او اساسي توګه رسېدنه وسي. په افغانستان کې د (WFP) مشرې له ماليې وزارت څخه مننه وکړه، چې په تېرو دوو کلونو کې ئې د بشري مرستو د رسولو په برخه کې یو لړ مهمې ګمرکي او مالیاتي اسانتیاوې برابرې کړې، چې د بشري فعالیتونو د پراختیا په برخه کې ئې مثبت اثر کړی دئ. مېرمن «لي» زیاته کړه، چې (WFP) د افغانستان وضعیت له نږدې څارې او د بهرنیو مرستو د راجلبولو په موخه به د افغانستان د وضعیت او د بشري مرستو په برخه کې د رامنځته سوو اسانتیاوو ربښتینی انځور نړیوالو ته ورسوي. په افغانستان کې د خوړو نړیوال پروګرام مشرې ډاډ څرګند کړ، چې دوی به په افغانستان کې د اړوند وزارتونو سره په ګډه د بشري مرستو د رسولو او پراختیايي مرستو د برابرولو برخه کې خپلو فعالیتونو ته دوام ورکوي.

## د کندز سپین زر دولتي شرکت لومړنۍ صادراتي محموله اروپا ته واستول سوه




د کندز سپین زر دولتي شرکت له لوري اروپايي هیوادونو ته د وچو رومیانو (۱٥۰) ټنه لومړنۍ محموله واستول سوه. په همدې موخه جوړو سوو مراسمو کې د دولتي شرکتونو عمومي رئیس الحاج مولوي عبدالحمید اخندزاده، د هوټلونو دولتي شرکت عمومي رئیس حافظ عبدالمنان مبارک، د سپین زر دولتي شرکت رئیس عبدالحفیظ فریاد او ګڼ شمېر نورو مسؤلینو ګډون کړی وو.

پاتې برخه په دوهم مخ کې...

## د ننګرهار ګمرک کارکوونکو په چاودېدونکو توکو کې کارېدونکي ثانیه سوز لاینونه نیولي دي



د ننګرهار ګمرک د تشریح برخې کارکوونکو (د مومند سرحدي شرکت اړوند په دوو سوداګریزو محمولو کې) په چاودېدونکو توکو کې کارېدونکي (۱٦۰) بستې ثانیه سوز لاینونه، چې مجموعي وزن ئې (٦۰۹،٦) کیلو ګرامه کېږي، غوښتل ئې چې له پاکستان څخه ئې هیواد ته را وارد کړي، کشف او ونیول. په دې تړاو یو تورن کس نیول سوی او د نورو څېړنو په موخه اړوندو قضایي ارګانونو ته ور وپېژندل سو.




د خزاینو لوی ریاست پلاوي غزني، میدان وردګ او بامیان ولایتونو ته سفر وکړ

م ۲



د نیمروز ګمرک د ګرځنده څارنې مسؤلینو د ایراني پلاستیکي کڅوړو د قاچاق څخه مخنیوی وکړ

م ۲



د هرات ګمرک کارکوونکو د قاچاقي درملو د واردولو مخه ونیوله

م ۲




د ولایتي ګمرکونو د مالي، اداري اوټرانزیټ برخې کارکوونکو ته ۱۸ ورځنی روزنیز ورکشاپ پای ته ورسید

م ۲



په سازمانونو کې د مالي بحران سببونه

م ۳




First Export Shipment of Kundus Spinzar SOC Sent to Europe

م ٤

## د ولایتي گمرکونو د مالي، اداري او ټرانزیټ برخي کارکوونکو ته ۱۸ ورځنی روزنیز ورکشاپ پای ته ورسېد




د ولایتي گمرکونو د مالي، اداري او ټرانزیټ برخي کارکوونکو ته د گمرکونو او عوایدو ملي اکاډمی له لوري جوړ سوی (۱۸) ورځنی روزنیز ورکشاپ پای ته ورسېد. د دې ورکشاپ د پای په مراسمو کي، چي د گمرکونو لوی رئیس ښاغلي الحاج مفتي عبدالمتین سعید او د دې ریاست د حقوقي چارو رئیس گډون کړی وو، د گمرکونو لوی رئیس په خپلو خبرو کي د ورکشاپ گډونوالو ته سپارښتنه وکړه، چي په دې ورکشاپ کي زده کړل سوي موضوعات له خپلو نورو همکارانو سره هم شریک کړي. همدا رنگه نوموړي دوی ته د اسلامي اصولو سره سم د خپل صورت او سیرت د برابرولو، په صداقت او ایمانداری سره د اړوندو چارو تر سره کولو، د وطن او نظام سره د وفاداریٔ او ځینو نورو برخو کي هم دوی ته لازمي سپارښتني وکړې. د غونډې په پای کي ښاغلي سعید د یاد ورکشاپ گډونوالو ته د فراغت سندونه هم ورکړل. د یادوني وړ ده، چي په دې روزنیز ورکشاپ کي د ولایتي گمرکونو د مالي، اداري او ټرانزیټ برخي (۵۴) کارکوونکو گډون کړی وو، چي د نظري زده کړو تر څنگ عملي زده کړي هم ورکړل سوي.

## امتحان تحریری دو بست آمریت ریاست عمومی خزاین وزارت مالیه اخذ گردید

وزارت مالیه متعهد به سپردن کار به اهل کار، ایجاد شفافیت در ادارات مربوطه خویش و جذب کادر های داخلی بوده و همواره در این راستا تلاش نموده است. بر همین اساس ریاست منابع بشری امتحان (۲) بست (آمریت تضمین کیفیت و آمریت معیارات مسلکی) ریاست عمومی خزاین این وزارت را از طریق رقابت آزاد و بطور شفاف اخذ نمود. در این امتحان که در خیبرهال وزارت مالیه اخذ گردید، در بست آمریت تضمین کیفیت (۱۲) تن و در بست آمریت معیارات مسلکی (۱۹) تن اشتراک نموده بودند. از مجموع اشتراک کنندگان (۲) تن از کسانی که بالاترین نمره را در امتحان تحریری کسب کرده باشند، بعد از سپری کردن امتحان تقریری در اداره مربوطه جذب می گردند.

## د خزاینو لوی ریاست پلاوي غزني، میدان وردگ او بامیان ولایتونو ته سفر وکړ

د خزاینو لوی ریاست یوه تخنیکي (۱۲) کسیز پلاوي، چي مشري ئې د افغانستان مالي مدیریت معلوماتي سیستم (افمیس) رئیس ستارالدین معتصم او د محاسباتو رئیس محب الله صاحبزاده کوله، د غزني، میدان وردگ او بامیان ولایتونو د مستوفیتونو د مالي آمریتونو او د ادارو د مالي مسؤلینو د چارو څخه له نږدې کتني او ارزوني، د کارکوونکو د روزني، د بې ځایه لگښتونو د کنټرول او بیروکراسۍ ختمولو، د مستوفیتونو او ولایتي ادارو ترمنځ د همغږۍ پیاوړي کولو، په اداري کړنو کي د روڼتیا او لا ښه والي رامنځته کولو، د اوږدو پروسو لنډولو، دقیق او پر خپل وخت د حساب ورکولو، د نوي نقدي او جنسي محاسبې د تعلیماتنامې اړوند نظریاتو راټولولو او داسي نورو اړینو مواردو په موخه یادو ولایتونو ته سفر وکړ.

دغه پلاوي د یادو ولایتونو له مستوفیانو، د مستوفیتونو د مالي آمریتونو له کارکوونکو او یو شمېر نورو ادارو له مالي مسؤلینو سره وکتل او دوی ته ئې د سفر د موخو اړوند تفصیلي معلومات وړاندي کړل. همدا راز د مستوفیتونو د مالي آمرینو لخوا د مستوفیتونو د مالي چارو په تړاو د ټولو اوسنیو پروسو اړوند پرزینټېشن وړاندي کړل سو، چي د تخنیکي همکارانو له لوري ئې ستونزي او نیمگړتیاوي په گوته سوې. پلاوي د مستوفیتونو هره څانگه له نږدې ولیدله او مسؤلینو ته ئې لارښوونه وکړه او هغه ستونزي او نیمگړتیاوي، چي مالي آمریتونه ورسره مخ ول له نږدې ور سره حل کړې او ستر خنډونه ئې له ځان سره یاداښت کړل، چي د سفر له پای ته رسېدو وروسته ئې له مقام سره شریک کړي.

وروسته بیا د یادو ولایتونو د والیانو په مشرۍ د ټولو اړونده ولایتي ادارو رئیسانو او خپلواکو ادارو د مالي آمرینو سره د همغږۍ د پیاوړتیا، په لگښتونو کي د سپما، د مالي چارو د پروسو د ښه کولو، د بې ځایه او غیر اړینو لگښتونو د مخنیوي، د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه عالي مقام د احکامو او فرامینو او د مالي چارو او عامه لگښتونو د اداره کولو قانون او د مالیې وزارت د لارښوونیز متحدالمالونو د پلي کولو په موخه گډي ناستي هم ترسره سوې. وروسته بیا د محترم ستار الدین معتصم لخوا د سفر د موخو، د بیت المال د ساتني، بیت المال څخه په روڼ ډول د لگښت څرنگوالی او په شفاف او دقیق ډول د عوایدو راټولولو په موخه د ولایتي ادارو سره د همغږۍ د پیاوړتیا او ښه والي اړوند په تفصیلي توگه بحثونه ترسره او په ټوله کي د مالي نظام د پیاوړي کولو، رهبرۍ د قوانینو او مقررو ښه پلي کولو، مالي لگښتونو کنټرولولو او پلي کولو په تړاو خبري وسوې. د ولایتي ادارو د رئیسانو سره تر مجلس وروسته د یادو ادارو د مالي او اداري څانگو د آمرینو سره د پورته موخو د پلي کولو او په مالي پروسو کي د هغوی د ستونزو اورېدلو په موخه هم خبري وسوې او حل لاري ورته په گوته سوې.

## د نیمروز گمرک د گرځنده څارني مسؤلینو د ایراني پلاستیکي کڅوړو د قاچاق څخه مخنیوی وکړ




د نیمروز گمرک د گرځنده څارني مسؤلینو د دې ولایت د سر دشت په سیمه کي له یو کوچني بار وړونکي موټر څخه (۸۰) بوجۍ ایرانۍ پلاستیکي کڅوړي، چي څه باندي (۲۰۰۰) کیلو گرامه وزن ئې درلود، کشف او د قاچاق مخنیوی ئې وکړ. د اسلامي امارت د رهبرۍ پرېکړه دا ده، چي د کورني صنعت د ملاتړ او له ککړتیا څخه د چاپیریال ساتني په موخه باید هیواد ته د هر ډول پلاستیکي کڅوړو د را واردولو مخه ونیول سي. د یادوني وړ ده، چي د گمرکونو د گرځنده څارني او امنیتي مسؤلین د غیري قانوني او په قاچاقي ډول د وارداتو او صادراتو څخه په کلکه مخنیوی کوي او هیڅ چاته اجازه نه ورکوي چي ورته اعمال ترسره کړي.


## د هرات گمرک کارکوونکو د قاچاقي درملو د واردولو مخه ونیوله



د هرات ولایت د گمرک ریاست د تشریح څانگي کارکوونکو د خپلو هلو ځلو په پایله کي د ټایرونو په یوه وارداتي محموله کي زیاته اندازه د ټیټ کیفیت ټابلیټونه، چي په غیر قانوني ډول هیواد ته واردېدل، کشف او ونیول. د یادوني وړ ده، چي په تېرو دوو کلونو کي هیواد ته د بې کیفیته او ممنوعه درملو د واردولو د مخنیوي په موخه یو لړ اصلاحات او قوانین وضع سوي، چي له مخي ئې واردوونکي شرکتونه باید د عامي روغتیا وزارت او د افغانستان د خوړو او درملو ملي اداري جواز ولري. دغه راز هغه درمل، چي په قانوني ډول هیواد ته واردېږي، د کیفیت له تجزیې او څېړلو وروسته د گمرک له پروسې څخه تېرېږي او بیا بازار ته وړاندي کېږي.

### ... د کندز سپین زر ادامه

د دغه مراسمو پر مهال د دولتي شرکتونو عمومي رئیس الحاج مولوي عبدالحمید اخندزاده وویل، چي دا د افغانستان اسلامي امارت لپاره یوه ستره لاسته راوړنه ده، چي د هیواد سبزیجات او ترکاري ئې اروپایي هیوادونو ته استول کېږي، نوموړي زیاته کړه، چي اسلامي امارت به دغه راز د واخان له لاري هیواد له اروپا او آسیا سره وصل کړي، همدا راز نړیوالو په رسنیو کي د اسلامي امارت غلط انځور خپور کړی وو، چي هیواد ته د بېلابېلو هېوادونو د سیلانیانو په راتگ سره هغوی د افغانستان څخه د امن، سوکالۍ او پرمختگونو انځور بېرته نړیوالو ته وړاندي کړی دئ. ورته مهال د سپین زر دولتي شرکت رئیس عبدالحفیظ فریاد وویل، دا د ویاړ ځای دئ، چي په خپل هیواد کي ئې ځوانانو ته کاري زمینه برابره کړې او




هم ئې د نړۍ بېلابېلو هیوادونو ته توکي صادرېږي. فریاد زیاته کړه، سربېره له وچو رومیانو د افغانستان لاسي صنایع هم نوري نړۍ ته صادر سوي دي. اخوا د هوټلونو دولتي شرکت عمومي رئیس حافظ عبدالمنان مبارك اروپایي هیوادونو ته د دغه محمولې لېږل ستر گام یاد کړ او ویې ویل: دا د افغانانو لپاره د ویاړ ځای دئ، چي د بد بختیو څخه وژغورل سول او له فقر څخه راووتل. حافظ مبارك زیاته کړه، د ویاړ ځای دئ، چي اوسمهال د افغانستان اقتصاد مخ پر وده روان دئ او دا دئ اروپا ته ئې د وچو رومیانو لومړۍ محموله ولېږل سوه. د یادوني وړ ده، چي سپین زر دولتي شرکت د تېرو (۲۱) کلونو راهیسي غیر فعال وو، چي د اسلامي امارت په راتگ سره بیا فعال او اوسهال په کښي پنبه، د پنبې غوړي، کونجاړه او کاغذي دسمالونه جوړ او پروسس کېږي.

شتمني SHTAMANAI اوونيزه

# په سازمانونو کي د مالي بحران سببونه

استاد عبدالجبار وحدت
د ملي بوديجې اجرائيوي رئيس

مالي بحران يو داسي وضعيت ته وايي، چي مالي شتمني د اسمي او حقيقي ارزښت يوه لويه برخه په غير متوقع ډول له لاسه ورکړي. يا په مالي اداره کي مالي بحران داسي هم تعريفولای سو، چي د پيسو بهرني جريان(out flow) ډېر زيات وي او په پايله کي د نغدي خطر(Liquidity risk) سره مخ کېږي، مالي بحران ورته وايي. دا يو داسي حالت دئ، چي د لګښتونو د تمويل او پېرېدونکو د رضايت لپاره نه په سيستم کي نغدي پيسي وي، نه شتمني وي او نه عايداتي او تشبثاتي سرچينې تر ستړګو کېږي. همدارنګه اقتصادي بحران بيا يو داسي حالت ته وايي، چي معمولاً اقتصادي وده د څو مالي دورو لپاره د نزول په طرف ولاړه سي، يا د ټيټوالي په حالت کي پاته سي. دلته به په يوه سازمان او اداره کي د مالي بحران په ځينو عواملو باندي په لنډه ډول بحث وکړم.



- **مالي ضعيف مديريت:**

مالي مديريت په يوه اداره او يا سازمان کي خورا مهم او د لوړ اهميت لرونکی دئ، له نوم څخه ئې معلومېږي، چي د ټولو مالي منابعو درست مديريت او بايد دا هرڅه په درست ډول مديريت سي، د سبا پلان او سپما بايد وسنجول سي، راتلونکي مالي بحرانونه بايد تخمين او پيشبيني سي، په همدې اساس که چيري په دې برخه کي نيمګړتيا او ضعف موجود وي، يوه اداره هرومرو د مالي او اقتصادي بحران په لوري ځي.

- **عملياتي خطر:**

ډېری وخت د اداري يا سازمان کارکوونکي په عملياتي برخه کي غفلت کوي، چي په دې حالت کي عايداتي سرچينې وچېږي او اداره په تدريج سره د بحران په لوري ځي، په همدې اساس بايد عملياتي برخه پياوړې سي او په منظم ډول وڅارل سي، تر څو د عملياتي خطر(Operational Risk) مخه ونيول سي.

- **د درستي بوديجې جوړوني نشتون:** دا چاره د يوه بنسټ د مالي پايښت لپاره خورا اړينه چاره ده، بايد د راتلونکي اقتصادي وضعيت او لګښتونو اړوند معقوله پلان جوړونه تر سره سي، تر څو مالي کنټرول رامنځته سي او که احياناً په دې برخه کي کمزورتيا موجوده وي، طبيعي ده، چي سازمان به د بحران په لوري ځي.
- **د عوايدو او لګښتونو نه پرتله کول:** هر وګړی او اداره بايد له تېر يا راتلونکي کال سره پرتلنه وکړي. بريالۍ اداري همېش پرتلنه کوي، بيا لګښتونه کوي او مالي پلانونه جوړوي؛ مګر کومي کورنۍ /اداري او سازمانونه، چي لګښتونه له عوايدو سره پرتله نه کړي، پوروړي کېږي او په پای کي د مالي بحران په لوري ځي.
- **د عوايدو د توليد په برخه کي د درستي پاليسي نه شتون:** ډېری وخت اکثريت اداري د لګښتونو په کمښت باندي فکر او تمرکز کوي؛ مګر معقوله داده، چي بايد د عوايدو په توليد او رامنځته کېدو باندي غور وسي او که داسي ونه سي، اداره به له مالي بحران سره مخ کېږي.
- **د هيواد اقتصادي حالت او موسمونه په پام کي نه نيول:** ډېری وخت ادارات د هيواد راتلونکی سياسي، اقتصادي، موسمي او ټولنيز وضعيت په پام کي نه نيسي، چي د دې وضعيت په پام کي نه نيول او د داسي بدو وضعيتونو رامنځته کېدل د ادارو لګښتونه لوړوي او عايداتي سرچينې ئې وچوي او بالآخره ئې د مالي بحران په لور بيايي.
- **د نفتي موادو قيمتونه لوړېدل:** د هيواد په کچه د قيمتونو د لوړوالي اساسي علت د نفتي موادو قيمت لوړېدل دي، چي په پايله کي قيمتونه مطلوبه کچه له لاسه ورکوي او عدم استقرار رامنځته کېږي، چي د مالي بحران سبب کېدلای سي.
- **د اقتصادي جريان درېدل:** په هيواد کي د فلج اقتصادي حالت رامنځته کېدل، يا د اقتصادي څرخ درېدل هم د اقتصادي بحران لامل کېدلای سي.
- **اقتصادي نوسانات:** اقتصادي نوسانات هغه څه دي، چي په مجموع کي ټول اقتصادي اړخونه په يو ډول نه يو ډول اغېزمنوي؛ بناً ياد فکتور د سازمانونو د مالي بحران يو اساسي لامل کېدلای سي، مالي بنسټونه بايد د اقتصادي نوساناتو اړوند وضعيت تحليل کړي.

## د عوايدو لوی رياست رهبری د ۳۴ ولايتونو له مستوفيانو سره آنلاين ناسته ترسره کړه

دغه ناسته، چي د عوايدو د لوی رئيس ښاغلي الحاج شير محمد مشفق په مشرۍ او د ولايتي عوايدو د همغږۍ او پراختيا رئيس ښاغلي انجنير عبدالله حيدري او يو شمېر نورو مسؤلينو په ګډون جوړه سوې وه، د ولايتي مستوفيانو سره د غيرمالياتي عوايدو او د دوی د ستونزو او نظرونو اورېدو په تړاو د عوايدو او ګمرکونو رياست د غونډو په تالار کي په آنلاين بڼه بحث او خبري اتري وسوې.




په دې ناسته کي د تېر کال په پرتله د (۹۱) سلنه او د سږني کال لومړۍ ربعي په پرتله د (۳۴) سلنه عوايدو د لوړوالي په اړه بحث وسو. همدارنګه د ځينو ولايتونو مستوفيانو خپلي يو لړ ستونزي هم د عوايدو له لوی رئيس سره شريکي کړې. د عوايدو لوی رئيس ښاغلي الحاج شير محمد مشفق په خپلو خبرو کي له يادو مستوفيانو څخه د مننې تر څنګ وويل، چي په مخکي پرتې ستونزي او خنډونه به د امکان تر بريده حل کړي او همدا راز ئې دوی ته د يو لړ سپارښتنو د بيانولو ترڅنګ له هغوی څخه وغوښتل، چي له ولس سره د نېک چلند په موخه خپلو کارکوونکو ته هم لازم هدايات وکړي.



# اعلانات داوطلبی

### داوطلبی پروژه تدارک تجهیزات مورد نیاز سیستم اسیکودا گمرکات

یکشنبه ۹/۷/۱۴۰۲
وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژه(تدارك تجهیزات مورد نیاز سیستم اسیکودا گمرکات) دارای نمبر تشخیصیه Rebid-۰۳٦-G/۱٤۰۲/MOF که به روش داوطلبی باز داخلی صورت می گیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجــراء می گردد بدست آرند.
تاریخ جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۲۰/میزان/۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۰۳/ عقرب/۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تضمین آفر : به مبلغ ٦۰,۲۰۰ (شصت هزار و دو صد) افغانی میباشد.
آدرس:وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، مشاوریت تدارکات منزل دوم.
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦
آفر های دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود.

### اعلان داوطلبی

سه‌شنبه ۴/۷/۱۴۰۲
به اعلان گذاشتن موازی (۳۲۹۷,۲۵) متر مربع مع یک تعمیر مخروبه واقع ولسوالی ده سبز ولایت کابل! موازی (۳۲۹۷,۲۵) متر مربع زمین تجارتی مع یک تعمیر مخروبه واقع ولسوالی ده سبز ولایت کابل را از طریق اعلان داوطلبی به منظور افزایش عواید امارت اسلامی به شکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد.
اشخاص، موسسات و شرکتهای محترم واجد شرایط خواهش که اجاره و کرایه گرفتن جایداد فوق الذکر را داشته باشند درخواستی های خویش را به ریاست عمومی املاك دولتی واقع تعمیر ١٤ منزله سینمای پامیر سپرده بعد از نشر اعلان الی (١٤) روز مراجعه شرطنامه را ملاحظه نموده پول حق الاشتراک بدون بازگشت را پرداخت نمایند.
سه‌شنبه ۱۸/۷/۱۴۰۲

### داوطلبی پروژه(تدارک و نصب لوازم نتورکنگ حوزه های مالیاتی ۲، ۳، ۸ و۱۵ ریاست مالیه دهندگان کوچک

یکشنبه ۹/۷/۱۴۰۲
ریاست تدارکات وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه(تدارك و نصب لوازم نتورکنگ حوزه های مالیاتی ۲، ۳، ۸ و۱۵ ریاست مالیه دهندگان کوچک) دارای نمبر تشخیصیه ۰۸۱-NCB/G/۱٤۰۲/MOF که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجــراء میگردد بدست آرند.
تاریخ جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۱۸/ میزان/۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۳۰/ میزان/۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تضمین آفر : به مبلغ ٦۰,۰۰۰ (شصت هزار) افغانی میباشد.
آدرس:وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، مشاوریت تدارکات منزل دوم.
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦
آفر های دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود.
یکشنبه ۳۰/۷/۱۴۰۲

### په نساجي بګرامي کي د (۲۵۰۰) متره مربع مساحت دولتي ځمکې او يو باب هنګر د مزايدې خبرتيا!

دوشنبه ۱۰/۷/۱۴۰۲
د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی رياست غواړي چي د کابل ولايت اړوند (۱٦) مه ناحيه نساجي بګرامي کي د (۲۵۰۰) متره مربع په مساحت ځمکه سره د يو باب هنګر چي مياشتنۍ کرايه ئې (۴۴۰۰۰) افغانۍ ده مزايدې ته وسپاري. ټول هغه حکمي او حقيقي اشخاص چي غواړي نوموړې ملکيت له ذکر سوي قيمت څخه په لوړ قيمت ونيسي کولای سي خپل غوښتليکونه د اعلان خپرېدو له نېټې څخه وروسته د (۱۴) ورځو په موده کي د دولتي املاکو لوی رياست ته و سپاري او د ياد سوي ملکيت شرطپاڼه د اسنادو د ارزوني او لومړني قيمت ته په کتو تر لاسه کړي.
دوشنبه ۲۴/۷/۱۴۰۲

### د سينما پامير تعمير دوهم منزل يوه برخې چي (۴۵۲.۷) متره مربع مساحت لري د داوطلبۍ خبرتيا!

دوشنبه ۱۰/۷/۱۴۰۲
د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی رياست غواړي چي د کابل ولايت اړوند (۱) ناحيې د سينما پامير (۱۴) منزله تعمير دوهم منزل يوه برخه چي (۴۵۲.۷) متره مربع مساحت لري د داوطلبۍ له لاري اعلان ته وسپاري. ټول هغه حکمي او حقيقي اشخاص، چي غواړي نوموړی ملکيت په کرايه ونيسي کولای سي، خپل غوښتليکونه د اعلان د خپرېدو له نېټې څخه وروسته د (۱۴) ورځو په موده کي د دولتي املاکو لوی رياست ته و سپاري او د ياد سوي ملکيت شرطپاڼه د اسنادو د ارزوني او لومړني قيمت ته په کتو تر لاسه کړي.
شنبه ۲۲/۷/۱۴۰۲

شمنی
SHTAMANAI
اوونیزه

د امتیاز خاوند: د ماليې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: حبیب الله حُبیب
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبپاڼه: mof.gov.af
ټویټر: afghanistanmof @
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)



## First Export Shipment of Kundus Spinzar SOC Sent to Europe

Kundus Kundus Spinzar State Owned Corporation (SOC) sent the first shipment of sun-dried tomatoes of 150 tons to European countries. General Director of SOC Alhaj Maulawi Abdul Hamid Akhundzada, General Director of State Hotels Corporation Hafiz Abdul Manan Mubarak, Director of Kundus Kundus Spinzar SOC Abdul Hafiz Faryad and many other officials participated in this organized ceremony. During this ceremony, General Director of SOC Alhaj Maulawi Abdul Hamid Akhundzada mentioned that it is a great achievement for the IEA that the country›s vegetables and fruits are being exported to European countries. “Islamic Emirate of Afghanistan also has connected the country through Wakhan corridor to Europe and Asia, and the international media had disseminated a wrong image of IEA. With the arrival of tourists from different countries to Afghanistan, they have presented the image of peace, prosperity and progress from Afghanistan to the international community”, he added. Meanwhile, Director of Kundus Spinzar Kundus SOC Abdul Hafiz Faryad told that it is pride they have provided employment opportunities for the youths in the country and export goods to various countries of the world. Faryad added, in addition to sun-dried tomatoes, Afghanistan›s handicrafts have also been exported to the rest of the world. General Director of State Hotels Corporation Hafiz Abdul Manan Mubarak noted the great step of sending this shipment to European countries.




“This is a pride and honor for Afghans that they have been rescued from difficulties and came out of poverty”, Hafiz added. Hafiz Mubarak mentioned more that it is a matter of pride that currently Afghanistan›s economy is growing and that is the first shipment of sun-dried tomatoes, which was sent to Europe. It is certainly worth mentioning that Kundus Spinzar Kundus State Owned Corporation has been inactivated since the past 21 years, but it was reactivated with the arrival of the IEA. Kundus Spinzar Kundus SOC now has the ability to produce and process cotton, cottonseed oil, Sesame oil meal or cotton seed oil cake and tissue papers.

## د بنايي ساختماني رياست ارزښت ټاکنه ترسره سوه
## ارزش گذاری ریاست ساختمانی بنایی انجام شد
## Value of Building Construction Directorate Determined

د دولتي شرکتونو د ارزښت ټاکني په لړ کي دا ځل د ملي پراختیا شرکت اړوند د بنايي ساختماني رياست ارزښت ټاکنه ترسره سوه، چي له تصفیې او ارزښت ټاکني څخه وروسته د دغه رياست پانگه له (۲۸٦) میلیونه افغانیو څخه (۱۷,۷٦۷) میلیارډه افغانیو ته لوړه سوې ده، چي د (۱۷,٤٨۱) میلیارډه افغانۍ توپیر پکښي لیدل کېږي. د اسلامي امارت رهبرۍ د دولتي شرکتونو د ارزښت په ډاگه کولو ته یو ګډ پلاوی ټاکلی، چي د دغو شرکتونو اوسنی ارزښت ملت ته روښانه کړي.

در سلسله ارزش گذاری شرکت های دولتی، این بار ارزش گذاری ریاست ساختمانی بنایی شرکت انکشاف ملی انجام شد، که پس از تصفیه و ارزش گذاری، سرمایه این ریاست از (۲۸٦) میلیون افغانی به (۱۷,۷٦۷) میلیارد افغانی افزایش یافته است که تفاوت (۱۷,٤٨۱) میلیارد افغانی را نشان میدهد. رهبری امارت اسلامی هیئت مشترکی را برای مشخص ساختن ارزش شرکت های دولتی تعیین کرده است تا ارزش فعلی این شرکت ها را برای ملت روشن بسازد.

As part of the valuation of State-owned Corporations (SOCs), in its turn the valuation of Directorate of Building Construction related to the National Development SOC was carried out. After the settlement or clearance and valuation, the capital of this SOC has increased from 286 million Afghanis to 17.767 billion Afghanis, which its difference reaches to 17.481 billion Afghanis. The leadership of IEA has appointed a joint delegation to present the value of State-owned Corporations in order to clarify the current value and importance of these corporations to the nation.




## Deputy Minister of Finance of MoF Meets With Deputy Country Director of WFP in Afghanistan

Deputy Minister and Kafil of Finance of MoF, Haji Abdul Qadir Ahmad met with WFP Representative and Country Director in Afghanistan, Hsiao-Wei Lee. In the inception, besides welcoming the officials of WFP, Deputy Minister of Finance thanked the WFP for continuing its activities in Afghanistan and assured that MoF will continue to support the activities of this organization in humanitarian and development sectors with the intention to provide more collaborations and facilities. Mr. Abdul Qadir Ahmad requested WFP to provide assistance in development areas in addition to humanitarian aid, so that the problems of Afghans can be permanently and fundamentally addressed. Deputy Country Director of WFP in Afghanistan thanked the Ministry of Finance for providing a series of important customs and tax facilities in the delivery of humanitarian aid in the past two years, which has had positive influence to the development of humanitarian activities Mrs. «WFP



is closely monitoring the situation in Afghanistan in order to attract foreign aids and will convey the real picture of the situation of Afghanistan and the facilities created in the field of humanitarian aids to the international community», she added. Deputy Country Director of WFP in Afghanistan assured that they will continue their activities in the field of furnishing humanitarian and development aids in Afghanistan jointly with the relevant ministries.

## Nimroz Customs Mobile Surveillance Officials Prevent Smuggling of Iranian Poly Bags



Nimroz customs mobile surveillance officials discovered 80 parcels of Iranian plastic bags or pouches, which weighed about 2,000 kg, from a light truck in Sardasht area of this province and prevented smuggling. The decision of the leadership of the IEA is to support the domestic industry and protect the environment from pollution; hence the import of all types of poly bags must be ceased. Notably, the mobile surveillance and security officials of the customs always prevent illegal and smuggled imports and exports strongly and don’t allow anyone to do such acts at all.

د شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د ماليې وزارت سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو هیله کوو، چي خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لاري موږ ته راواستوي.